# وطن پلورونکوته

وطن چی په  دالر  دی خرخول اشرار رسوا شو
د  ستا  د لاسه  خلکو  له  کوروںو  خپل جلا  شو
له سیاه «!» دالر دی واخیست دینجشیر په بازارک کی
اولس دی  گرفتار کړ د امریکی په غټ تلک کی
سیا ف چی  دالر ولید  هغه  دم  شو ډیر  حیران
پشو په شا ن د غوښی  پسی  شو چا بک روان
له ډیر  خوشحا لی  نه خوله یی جینګه ښکاره شو
چی  کله  د ډالرو  هر بنډل  ته  یی  نظاره  شو
ډالر یی په  جیب  واچول  سر  ښکته  په سجد ه شو
د  سیاه  د آو امرو  د  منلو  په  نسخه  شو
فهیم ، عارف ، عبد ل  بیعت  ورکړل  سیاه  ته
د افغان اود افغا نیت غیرت  یی  پریشودل  شا  ته
پر  خلکو  له آ سما نه  د  بمونو  با ران  پیل  شو
څوک  مړشو ، څوک ټپی ډیرو ډیرونور په جیل شو
وطن  د غټ  بمونو  په  باران  کی  شو  ویجا ړ
خمکه  اوکروندی  له  یو سره په بمونو  شو  شاړ
هغو  چی  وه  مین  پر  وطن  ټول  فراری  شو
د  پردو  په  ملک  خواره  واره ټول په  خواری شو
وطن کی  سپک  سرو  مجاهدو  واک  تر لاس کړل
وطن یی دامریکی دبمونودوب په دوړواوبړاس کړل
تاریخ نه  دی  پټ  کړی  هیڅ  ریشتیا اوحقیقت
خلک وایی «مل» چی اوس  اشرار ټول دی ملامت
****

«۱ » سی آی ای

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
کریفلد جرمنی ۲۰۱۵-۲-۱۸